## مور د سکولز پلَس (SchoolsPlus) له پروګرام سره د څه په لټه کې یو؟

مور د کورنیو او ځوانانو د لا ښکېلتیا او د هغوی د بریا پر لور په فعال ډول پلان جوړونه کوو.

سکولز پلَس د شریکانو په همکارۍ په پلان کې لري، چې یوه لړۍ پروګرامونه او خدمات د ښوونځیو په سایټونو کې پر لار واچوي. دغه پروګرامونه او خدمات په لاندې ډول دي:

- لاربنوونه او د روزنې پروګرامونه
- د کورنیو دندو د ترسره کولو کلپونه ، د کارموندنې له پروګرامونو ملاتړ
- روغتیایي خدمات (د رواني روغتیا ارواپوه، د ځوانانو د روغتیا همغږۍ کوونکی، د ماشومانو روغتیا پال)
- څارنه او د ټولنې پولیس
- د سهار چای پروګرامونه ، د تغذیي ټولګي، د ټولنې بڼ
- د ماشومانو د لومړنیو کلونو مرکزونه
- د ځوانانو ګروپونه (رسامي، فرهنګ او د جنډر وحدت)
- له میندو او پلرونو د ملاتړ پروګرامونه (ټولګي، ټولنیز ګروپونه)



MAR2023



Schools Écoles Plus

سکولز پلَس
په نوواسکوشیا کې د سکولز پلس په اړه د لا زیاتو مالوماتو لپاره له لاندې مرجع سره په اړیکه کې شئ:
د سکولز پلس همغږی کوونکی
د زدکوونکو خدمات، د ماشوم د ښوونې او ودې دیپارتمنت
۱۲۰۲ برنزویک سړک
هالیفکس، نوواسکوشیا
لاربنوونه او د روزنې پروګرامونه

**SchoolsPlus Coordinator**
Student Services, Department of Education
and Early Childhood Development
2021 Brunswick Street
Halifax, NS  B3K 2Y5
**902-424-7308**
**schoolsplus.ednet.ns.ca**

# Schools Écoles Plus

NOVA SCOTIA / NOUVELLE-ÉCOSSE

A COLLABORATIVE INTERAGENCY APPROACH SUPPORTING THE WHOLE CHILD AND FAMILY




NOVA SCOTIA

## د سکولز پلَس لیدلوری دا دی چې ښوونځي د ټولنې د ثقل په مرکز بدل شي، داسې یو مناسب ځای چې په کې کورنۍ له خدماتو برخمنې شي.

### کورنۍ څنګه کولای شي سکولز پلَس ته لاسرسی ومومي؟

په اصل کې د ښوونځي مدیر او د ښوونځي د زدهکوونکو د پلان جوړونې ټیم کولای شي سکولز پلس ته زدهکوونکي وروپېژني. د خدماتو وړاندې کوونکي، زدهکوونکي او کورنۍ هم کولای شي د زدهکوونکو د ورپېژندنې لپاره د سکولز پلس پروګرام له تنظیموونکي سره په اړیکه کې شي.



وروسته له هغې د سکولز پلَس پروګرام تنظیموونکی د اړتیا پر بنسټ د ښوونځي د زدهکوونکو د پلان جوړونې ټیم غونډو ته د ګډون لپاره راغوښتل کیږي. د غونډې د ګډونوالو د نظریاتو کچه به د اړتیاوو د کچې پر بنسټ وي، هغه اړتیاوې چې د معرفي کولو په لومړۍ سر کې په ګوته شوې وي. ځینې وخت په ډېر ساده ډول یوازې د اړیکو شمېرو بدلول وي، ترڅو کورنۍ له هغو خدماتو سره په اړیکه کې وساتل شي چې دوی ورته اړتیا لري. خو بیا ځینې وخت، د پروګرام تنظیموونکی ښایي له یو شمېر د خدماتو د وړاندې کولو له غړو سره غونډه تنظیم کړي، ترڅو له یوې کورنۍ سره د عمل پلان جوړ کړي. موږ دغه د عمل پلان ته ټولییز خدماتي پلان وایو.

زدهکوونکي ښایي ټولییز خدماتي پلان ته هغه وخت اړتیا ولري، چې:

- دوی وغواړي له بېلابېلو خدماتو سره وصل شي
- داسې خنډونه واوسي چې خدماتو ته د لاسرسي مخنیوی وکړي
- له یوې لړۍ خدماتو نه برخمن دي، خو بیا هم د بریا لپاره لا نورو خدماتو ته اړتیا لري

سکولز پلَس مسلکي کسانو ته دا چاره اسانوي، ترڅو د ماشومانو، ځوانانو او کورنیو په استازیتوب همکاري وکړي. کورنیو ته په ډېر ورین تندي او د دوی د لاسرسي وړ ښوونځي کې خدمات وړاندې کیږي، هغه ځای چې د دوی په ټولنه کې موقعیت لري. هغه خدمات چې د سکولز پلس په سایټ کې وړاندې کیږي، د ټولنې بې سارې اړتیاوې پوره کوي.


هر سایټ سیمییزه مشورتي کمیټه لري چې غړي یې د بېلابېلو دولتي ارګانونو استازولي کوي. د بېلګې په ډول: قضایي، صحت او سلامتي، ټولنیز خدمات، د ماشوم د ښوونې او ودې دیپارتمنت او همدارار ټولنیزې اداري. د دغو مشورتي کمیټو کار په خدماتو او سرچینو کې د تشو په ګوته کول او د حللارو موندل دي.

### سکولز پلَس څه ډول کار کوي؟

د سکولز پلَس سایټونه د یوه تنظیموونکي او د ټولنې د پوهاوي کارکوونکي له لورې پرمخ بیول کیږي. دغه دوه کسان د ښوونځي او ټولنې ترمنځ د ارتباطي کسانو په توګه کار کوي او زدهکوونکو او کورنیو ته د خدماتو په رسولو کې همغږي او پراخوالی راولي. دوی همدارار له کورنیو سره مرسته کوي چې سیستم تعقیب او هغه خدمات ترلاسه کړي چې اړتیاِ ورته لري. د رواني صحت کلینیکونه د سکولز پلس په ځینو ښوونځیو کې موقعیت لري، چې موخه یې هغو زدهکوونکو ته د ملاتړ او درملنې خدمات رسول دي، چې رواني ستونزې تجربه کوي.

### سکولز پلَس چا ته خدمات وړاندې کوي؟

سکولز پلَس ټولو ماشومانو، ځوانانو او کورنیو او په ځانګړي توګه هغو کسانو ته خدمات وړاندې کوي، چې اضافي ملاتړ او خدماتو ته اړتیا ولري.



### سکولز پلَس څه ډول زدهکوونکو او کورنیو ته د پروګرامونو او خدماتو په وړاندې کولو کې ښه والی راولي؟

سکولز پلَس لاندې موارد وړاندې کوي:

- هر اړخیز، ګډ او منسجم خدمات وړاندې کول
- د ادارو ترمنځ د مالوماتو او سرچینو شریکول
- پر وخت او اغیزمن خدمات
- حساب ورکول او د شواهدو پر بنسټ د غوره کړنو کارول
- د ښوونځي له ورځو څخه بهر خدمات
- ظرفیت جوړونه
- کورني دوستانه ښوونځي
- سکولز پلَس د ښوونځیو له ودانیو څخه د

زدهکوونکو کورنیو او ټولنې له لورې په کار اخیستنې سره لاندې مواردو ته وده ورکوي:

- ټولنیز کارونه، روغتیایي، حقوقي، تفریحي او د رواني صحت خدمات چې د ښوونځیو په سایټونو کې وړاندې کیږي
- د ماشومانو مرکزونه، د کورنیو د سرچینو مرکزونه او د ځوانانو روغتیایي مرکزونه چې په ښوونځیو کې موقعیت لري